عبیدالله رحیمي مشوانی ۲۰۱۸/۱۲/۰۶

# د افغانستان د اوبو کچې ټيټيدل او وچکالي زیاتېدل یو نوی کړکېچ

اوبو د نشتوالي له امله ځیني خلک د خپلو ګاوندیانو هیله کوي.

د متحده ایالتونو جیولوجیکه سروې وايي چې افغانستان کې د ځمکې لاندې اوبو کچه په اوسط ډول د ۲۰۰۴-۲۰۱۲ تر منځ ۱/۴ میلي متره ټیټه شوې.

بل لور ته د پلازمېنې کابل د ځمکې لاندې اوبه ۱ تر ۲۰ متره ټیټې شوې دي او د افغانستان ۲۲ ولایتونه هم دمګړی له وچکالی سره مخ دي.

د ملګرو ملتونو د راپور له مخې، په نړۍ کې تر ۲۰۲۵م کال له پاکو اوبو د محرومو خلکو شمیر ۱/۸ میلیاردو ته ورسیږي.

همدا اوس په افغانستان کې ۷۳ سلنه خلکو ته پاکې اوبه نه رسیږي چې خورا ځورونکی حالت دی.

په خلیج هېوادونو کې په اوسط ډول اوسېدونکي د ورځې۵۵۰ لیتره اوبه مصرفوي په ورته وخت له۶۰۰ میلیونو زیات خلک د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري.

* افغانستان کې د اوبو کمښت؛ د نن اندېښنه که د سبا ناورین؟

* له ګاونډیانو سره د اوبو پر سر د افغانستان زیاتېدونکی کړکېچ

ځيرونکي اټکلوي چې د ځمکې په کره کې، د تر ټولو خطرناک اقلیمي بدلون له امله، بشر د تباهۍ پر یوه لوی شر د اوښتو له ډاروونکي ګواښ سره مخ دی.

یوه لویه ستونزه دا ده چې د انسانانو یوه لویه ډله دا لوی بحران نه پېژني.

همدې ټکي د ملګرو ملتونو د اقلیمي بدلون په کنفرانسونو کې د اوبو ورځ غونډه د تیرکال د نومبر ۱۷ مراکش کې رامنځته کړه چې ډیرې جالبې طرحې او وړاندیزونه پکې وشول.

همدا و چې هېوادونه یې تشویق کړای شول تر څو د اوبو پیدا کیدنې کارې پلانونه پلې کړي.

د مراکش د اوبو چارو وزیر ډاکتر شرافت افیلال وايي، مونږ باید پوه شو چې خطر په څه کې دی، څکه تل د اوبو کمښت د نا امنۍ سبب ګرځیدلی.

د خلکو مهاجرتونه هم ډېر کله ټولنې بې ثباته کوي او ځیني وخت یې لاملونه همدا اوبه دي.

افغانستان کی د اوبو بحران

د افغانستان په اړه ویل کیږي چې اوبه او ځمکه لري خو ډوډۍ او بریښنا نه لري.

په ۲۰۰۶ کې ملګرو ملتونو ویلي چې افغانستان کې د اوبو بحران د تازه اوبو فزیکي نشتوالي له کبله نه دی، بلکې‌علت یې د اوبو رسولو په برخه کې د پانګونې نشتوالی دی.
د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزارت هم په ځلونو اندېښنه ښودلې چې دا مهال افغانستان د اوبو د مدیریت او زیرمه کولو له اړخه له جدي ستونزو سره مخامخ دی.
طبیعي ده چې د وخت په تېرېدو سره د مصرفوونکو اړتیاوې د ژوند د سطحې له لوړېدو سره ډېرېږي او بیا داسې شیبه را رسېږي چې اوسنی اوبه به د ټولنې د اړتیا ځواب نشي ویلی او دا به د کړکېچ شیبه وي.
افغانستان کې تقریبا ۱/۵ میلیونه افغانان له خپلو اصلي سیمو بې ځایه شوي دي.
د دوی شمېر یوازې په ۲۰۱۷ کې څلور سوه زره زیات شوی دی. ملګري ملتونو د بې ځایه شوو خلکو شمیره کې د زیاتوالي ستر لامل د اوبو کمښت بللی.
* د افغانستان اوبه، امنیت او ګاونډیان
* د فراه طالبان؛ د ایران وچکالي او د افغانستان ناامني
افغانستان کې د ورځې ۱۳۳ کوچنیان د ناپاکو اوبو له کبله مري او د معلوماتو له مخې یوازې ۲۵ سلنه خلک په پلازمینه کابل کې پاکو اوبو ته لاسرسی لري.
تقریبا ۸ ملیونه افغانان اوس مهال د خوړو د کمښت سره مخ دي، دا شمېر به د وچکالۍ له راتګ سره نور هم ډېر شي چې ممکن په ۲۰۱۹ کې به د خواړو سخت کمښت راشي.
افغانستان د سیمې یوازینی هیواد نه دې چې د اوبو کمښت سره مخ دی، بلکې ایران، پاکستان او نورو ګاونډي هیوادونه هم د اوبو ستونزې لري.
نو ځکه هر کله چې افغانستان د بندونو او نورو زیربناوو جوړولو په برخه کې پانګونې پیل کړي، دا به د ګاونډیو هیوادونو سره د هیدرولوژیکو اړیکو بدلولو کې افغانستان ته لویه ننګونه وي.
د پلازمینی کابل تر ځمکې لاندی اوبو ککړتیا
په داسې حال کې چې کابل ښاریان تر ځمکې لاندې اوبو له سخت کمښت او بحران سره مخ دي، په دې ښار کې د اوبو ککړتیا بل جدي ګواښ دې.
د افغانستان د اوبو رسوني او کانالیزاسیون ریاست د سروې له مخې د کابل ښار ډېر شمېر سپټیک ټانکونه په معیار جوړ نه دي او فاضله مواد ترې د تصفیې لپاره نه انتقالیږي.
همدا لامل دی چې د کابل اوبه ورځ تر بلې ککړیږي.
* له کونړ سیند سره دوه ګړۍ مزل
* افغانستان د اوبو د لویو بندونو د نړیوال کمیسیون غړی شو
څېړنې ښیي چې تر ۵ میلیونو ډېر خلک په کابل کې ژوند کوي او تر ۳/۵ میلیونو ډیر وګړي یې پاکو اوبو ته لاس رسی نه لري.
د افغانستان د اوبو رسوني او کانالیزاسیون ریاست د راپور له مخې دا ډیر شمېر ښاریان چې د ورځنیو اوبو مصرف یې د ۳۰ څخه تر ۱۰۰ لیټرو پورې اټکل شوی د څاګانو اوبه کاروي او دا څاګانې د دوی کورونو کې کیندل شوې دي.

په کابل کې هغه پخوانی د عامه اوبو رسولو سیستم په لسیزو جګړو کې زیانمن شوی او اوس د نل د اوبو نشتوالي له کبله د ډېرو کابلیانو څښاک څاه ګانو پورې تړلی دی، چې د دې څاګانو اوبه د کارولو وړ نه دي.

پوهاند تومپکینز- د انګلستان د اوبو متخصص - د انګلستان په حکومت غږ کوي چې د اوبو روش لپاره باید ګوندي سیاستونه او رقابتونه تر شا وغورځوي او په حکومتي کچه لاس په کار شي او د دې پرځای چې د بیړنیو افتونو د پیښنو تکتیکي مخنیوی وکړي له منظمې ستراتیژۍ دې کار واخیستل شي.

هغه په ساده ډول په لویو پروژو د پانګونې باور نه لري او وایي چې سترې زیربنایي پروژې باید په کوچنیو پروژو تقسیم شي او بیا پرې پانګونه وشي.

پوهاند تو مېکنیز زیاتوي، مونږ ته پکار ده چې د طبیعت سره کار وکړو، سیندونه دې د چاپیریال سره بیا ځلې متصل شي چې د جریان ولاستې یې ورو او د سیلابونو مخنیوی وشي.

هغه باوري دی چې د سیلابونو او وچکالی حل لارې یو شان دي.

* د افغانستان او ګاونډیانو ترمنځ د اوبو د ستونزې حل

* "افغانستان کې د اوبو کړکېچ، تر ناامنۍ جدي ستونزه کېدای شي"

بل مهم فکټور د باران اوبه دي چې ښه استفاده ترې وکړی شو. د باران اوبو حاصل(رین واټر هارویستینګ) به د اوبو د زیرمه کولو او د سیلابونو کنټرولولو کې مرسته وکړي.

د اوبو د سکتور د بدلون اصلي کتلست په کلتوري بدلون او د اوبو سره د چلن بدلون دی چې افغانستان کې ورته زیاته اړتیا ده.

په کابل ښار کې د منظم کانالیزسیون د نه موجودیت له کبله د باران په ورېدو د دغه ښار ځینو واټونو ته اوبه راوځي چې بیا خلک له بېلابېلو ستونزو سره مخ کوي.

جاپان کې (رین واټر هارویستینګ سیسټم) تقریبا هر کور کې شته، هلته باران ډیر وي نو جاپانیان یې صرف د سیلابونو د خطر د کمولو په خاطر نصبوي.

پای

------------

د لیکوال په اړه:
عبیدالله رحیمي مشواڼي د جاپان له میازکي پوهنتون هیدرولوژي کې ماستري لري. څیړنې یې د باران د اوبو کښت او افغانستان کې د هغو وړتیاو په اړه کړې او اوس د پلازمېنې زون د پراختیا اداره کې د باران د اوبو کښت پلانر په توګه کار کوي